د جهاد هنداره

لومړي کال ، (۸) گنه د۱۳٦۹هـ ش دعقرب (۱٦)

د کندهارپه ولايت کې دمجاهدينو اودرژيم دقواوترمنځ جگړه روانه ده

په کويټه کي دمجاهدينو خبر چينو اوعيني شاهدانو ويلي دي چي دمجاهدينو بوشمير ټانکونه دعقرب په اومه نيټه د سپين بولدك دولسوالۍ نه دميوند ولسوالۍ په لور روان شول .

خبر وايي دميوند په ولسوالۍ کي دکابل رژيم دمليشيانواومجاهدينو ترمنځ اوس هم جگړه روانه ده .

دکابل رژيم قواو چي غوښتل يي دميوند محاصره ماته کړي اوددي مقصد لپاره يي زغره لرونکي ټانکونه او پياده قواوې دريگستان له لاري دي ولسوالۍ ته واستولي پدي هلو ځلو کي له ناکامۍ سره مخامخ شويدي .

همدغه راز درژيم هغه کاروان چي غوښتل يي دشينډنډ څخه کندهار ته حرکت وکړ ي دعقرب په (٦) نيټه

«۸» مخ

دگوارجيا په انتخاباتو کې کمونست گونډ د ماتې سره مخامخ شو

(۸) مخ

الحاج مولوي نظام الدين حقاني

PROPERTY OF ACKU

روس-امريکا دواړه دجهاد پرضد په توطئو اوسازشونولگيا دي ځکه خوافغانان ددوی غونډواوخبرو ته هيڅ توقع اواميد نلري

۳۰مخ

گورباچوف به د خپل عمر وروستی شپې په سياسی پناه کی تيری کړی

دروسيې يوې تبعيدي شوې شاعرې ايرينا راتو شينکسکا يا ... د راپرزيدو اتکل کړيدي او په غرب بي تور لگولي چي دهغه پلوي په غلطۍ سره کوي .

دبي اي بي دخبر ځاي درپوټ له مخي ايرينا په هغي غونډي کي چي دوارسا په پوهنتون کي جوړه شوي وه ځرگند وني وکړي اودگورباچوف لپاره يي دسولي د نوبل جايزه دغرب يوه دسيسه گڼلي چي هدف يي دگورباچوف دحکمرانۍ دله منځه تللي امپراطورۍ ساتنه ده .

دي زياته کړه : « گورباچوف به خپل وروستي عمر دکليفورنيا په ايالت کي دسياسي پناه اخيستلو په توگه تيرکړي . »

ايرينا دغيرقانوني فعاليتونو په تور څلور کاله دروسيې په زندانونو کي تير کړي اوکله چي دطبي معايناتو لپاره غرب ته ولاړه له هغي څخه دتابعيت حق واخيستل شو ا و اوس په لندن کي ژوند کوي

په مصرکې (۳۰۰) تنه مسلمان انقلابيون بنديان شوی دي

دحسني مبارك رژيم درفعت المحجوب دوژني وروسته دمسلمانو انقلابيونو په نيولو لاس پورې کړی اوتر اوسه يي دالجهاد داسلامي سازمان (۳۰۰) تنه غړي توقيف کړيدي .

درپوټ له مخي داکتوبر په (۲۸) نيټه دمسلمانانواودمصر دامنيتي پوليسو ترمنځ هغه وخت نښتي پيل شوي چي رژيم داتو تنو انقلابي مسلمانانو دنيولو لپاره دهغو ي په پټو ځايونو حملي وکړ ي.

ديادوني وړده چي دخليج دلانجي سره سم محافظه کاروعربي هيوادونو داسلامي غورځنگونو په مقابل کي دزورزياتي څخه کار اخيستي دي.

پيروزي هاي بازهم جديد

مجاهدين طي عملياتيکه اخيراً درقلعه نو مرکز ولايت بادغيس عليه مواضع قواي رژيم کابل براه انداختند بمساحت چهل کيلومتر ساحه را آزاد وحدود پنجهزار ميل سلاح رابه

«۸» مخ

جبهه اسلامي آزاديبخش جهاني مسووليت قتل رفعت المحجوب رئيس پارلمان مصر رابه عهده گرفته است

طبق گزارش مطبوعات اين جبهه که براي نخستين بار در ۲۲ ميزان سال جاري در عمان پايتخت اردن دريك کنفرانس بزرگ اسلامي اعلام موجوديت کرد همچنان مسووليت سرنگوني يك جت جنگي انگلستان رانيز به عهده گرفته است که در شمال عربستان سعودي سقوط نموده است .

جبهه مذکور هوشدار داده است که به نيروهاي امريکايي وانگليسي درعربستان ضربه وارد خواهد نمو د.

سرمقاله

دجهادپرضد دبين المللي سازشونو يوبل اړخ

پدی وروستيو کی روس امريکا يوځل بيا دافغانستان دربړی په رابطه غوږونه سره نژدی کړيدي اوپدی اړه يې دخپلو رزيلانه توطئو اوناځوانمردانه سازشونو بهير گړندی کړيدی .

دخپرو شويو خبرونو له مخي روس امريکا يوځل بيا پدي کشاله دخپلی شيطاني ديپلوماسي مزي سره غزولي دي او دا خبره يي دمطبوعاتو مخي ته راايستلی ده چي پرمجاهدينو اودکابل پرمزدور رژيم دوسلي په ورکړه په بنديز لگولو دواړه ستر قدرتونه توافق ته رسيدلي دي .

که څه هم له ډيري پخوا څخه داخبري روانی وی خو په وروستيو ورځو کی دامريکا يي رپوټونو دخبرونر له مخی داسی ښکاري چی روس امريکا غواړي دملگرو ملتونو له لاري خپلي توطئی اوبيشرمانه سازشونه پلی کړي .

دملگرو ملتونو عمومي منشي په وروستي رپوټ کی چی دوې اونۍ مخکی په نيويارك کي خپور شو ليکلي چي : يوه نړيواله موافقه پدي اړه سرته رسيدونکي ده اواوس ددي وخت رارسيدلي دي چی داموافقه ښکاره کړی شي .

«۸» مخ

په کابل کې دښوونځيو زده کونکو ته لوڅ فلمونه وړيا ښودل کيږي

دکابل ښاريانو دمجاهدينو له مشرانو غوښتني چي په کابل کي دلوڅو فلمونو دبندولو لپاره پرعملي اقدام لاس پوري کړي کوم چي اوس يي دنجيب حکومت خلکو ته وړيا ښيي .

دکابل ښاريانو په يوه ليك چي په شمالي سيمو کيدمجاهدينو مرکزونو ته ليږلي ويلي چي په کابل کي دروسيي پوځونو په موجوديت کي دادول فلمونه ځينو خاصو ځايونو کي ښودل کيدل خو اوس يي داکار په سينماگانو،ښوونځيو اوکوڅو کي پيل کړي .

په ليك کي راغلي چي دځوانانو

«۸» مخ

عمليات برولسوالی ميوند آغاز يافت

شوراي جهادي ولايت کندهار بمنظور فتح ولسوالي ميوند اخيراً ايجاد وعمليات مشترك برآن آغاز يافته است .

يك منبع جهاد درين رابطه گفته است که شوراي جهادي ولايت کندهار

«۸» مخ

يـك روز نامه الماني :

مردم افغانستان نميتوانند به نجيب باور داشته باشند

ص«۸»

نوازشريف د پاکستان د صدراعظم په توگه انتخاب شو



دپاکستان اسلامي جمهوري اتحاد په پارلماني انتخاباتو کي دبرياليتوب د ترلاسه کولو وروسته نواز شريف دپارلماني مشر په توگه وټاکه ، ويل

«۸» مخ

دمجاهدينو د برى لنډه لار دجهاد پراختيا ، دسنگرونو پياوړتيا او د ټولو جهادی قوتونو بشپړ يو والی دی.

الحاج مولوی جلال الدين حقاني

دنوبل دسولي جايزه اوګورباچوف ؟!!

دنوبل جايزه د «الفرد نوبل» له نامه څخه اخيستل شوی نوموړی يوسويډني ساينس پوه ؤ چي دباروتو «ډيناميټ» په جوړولو بريالي شوي اوكله بي چي ددغه مادي وژونكي اوتباه كوونكي خاصيت ته پام شو دخپل ضمير دارامۍ لپاره يي وصيت وكړ چي دده له مرګه وروسته دهغه ټوله دارايي په نقدي پيسو بدله اوګټه يي هر كال دساينس ، ادبياتو ، طب اوسولي په برخه كي هغه چاته دجايزي په توګه وركړل شي چي په پورتنيو څانګوكي ترټولو دستر انساني خدمت مصدرګرځيدلي وي .

وروسته دهغه دوصيت سره سم همداسي وشول دنوبل جايزي دتوزيع لپاره دسويډن اوناروي ګډ هيئتونه جوړشول اودشلمي پيړۍ له پيله هركال ددغه جايزي لپاره دمختلفو هيوادونو زيات كسان كانديد شوي خو دجايزي كميټي دخپلي مشخصي پاليسۍ ، خيالي اوفكري زاويي له مخي دخپل نظر وړكسانو په نوم جايزي وركړي مونږ ددي ادعا نشو كولي چي تراوسه پوري دغه جايزه هيڅ كوم مستحق كس ته نه دي وركړل شوی اوتراوسه پوري نوبل جايزي داړوند ي دكميټي له خوا ټولي ناوړه كسانو ته وركړل شوي دي اوهمدارنګه داهم نه وايو چي الفرد نوبل دخپل دغه نيك نيت ترشا كوم بل شوم مقصد درلود خوداپه ډاګه ده چي ددغه جايزي له ارځښت اواهميت نه ډيري ناوړه ګټي هم اوچت ، شوي چي اوس خويي دنوبل جايزي ارځښت اوبين المللي اهميت ترجدي سوال لاندي راوستي ځينو كسانو ته ددغه جايزي وركول داپه ډاګه كوي چي متأسفانه دغه انساني اوانساني خدمتونوته دارځښت وركولو ترنامه عمل لاندي هم دلويديځ ښكيلاك ناوړه نيتونه اوبدمرغه لاس دی .

دغه جايزه بايد هغه څوك واخلي چي دلويديځ له مزاج سره برابر اودهغوي دګټو ساتندوي وي او كه يو څوك په ادب ، سياست ،ساينس اوطب كي هرڅومره ستر خدمت وكړي دبشريت دارامۍ اوسوكالۍ لپاره ترلويو نه لوي بري ترلاسه كړي خوچي دلويديځ له مزاج اوخيال سره موافق نه وي دغه جايزه نشي ترلاسه كولي همدارنګه هغوي دنوبل جايزي له معنوي ارځښت نه په استفادې سره غواړي دخپل نظر وړكسان دټولي نړۍ پرخلكو ومني اوخپل مادي اومعنوي برلاسي پرټوله نړۍ تحميل كړي .

ښكاره خبره ده چي ديوي ځانګړي اوبيا استكباري مفكوري اوايډيالوژي په رڼا كي ددغي جايزي وركول دجايزي اصلي مستحق دتعصب اودښمن ترپردو لاندي پټوي اوڅن چي دغه جايزه دنورو ډيرومقدسو وسيلو په څير داستعمار چيانو په لاس لويدلي او دخپلوشومو اهدافو په لاره كي يي په كار وي ترپخوا زياته داستعمار دځانګړو اهدافو دلاسته راوړو لپاره په كاريږي .

ددغه جايزي دكميټي تيركلونه

> **لويديځ دنوبل دجايزي له معنوي ارځښت نه په استفادې سره غواړي خپل دنظر وړكسان دټولي نړۍ پرخلكو تحميل كړي اونړيوال يي ورتيا اوعظمت ته سلامي كړي**

اوګټندويان به په ځاي پريږدو يوازي دسولي په برخه كي به دتير اوسږني كال دنوبل جايزي دګټونكو په باب لنډ شانته رڼاواچوو تيركال دنوبل دسولي جايزه دملګرو ملتونو سازمان ته وركړل شوه تيركال ګورباچوف هم كانديد ؤخو پريكړه دملګرو ملتونو دسازمان په حق كي وه ، دملګرو ملتونوسازمان چي په نړۍ كي دسولي امن اوسوكالۍ په نامه جوړشوي خو اوس تري مراد دروس اوامريكا دخوښي نظامونو جوړول اوړنګول دي دملګرو ملتونوسازمان چي عملاً دروس اوامريكا دلاس يوه هسي آله اووسيله ده چي چيرته پوځي اونيغ يرغل كوي بيا يي ددوام لپاره همدغه سازمان هلته فعاليت پيلوي چيرته چي دغه دواړه ځواكونه له پوځي ماتي سره مخامخ كيږي بيا يي همدغه سازمان پرمخ دسولي اوامن نقاب ورغوړوي او دماتي څيره يي له نړيوالو پټوي اوپه لنډ وتڼكو كي دملګرو ملتونو سازمان چي څه نه شي كولي اوله كوم څه نه چي په رښتيا بي وسه دي هغه سوله اوامن دي چي دفلسطين ، لبنان ، افغانستان ...ورېږي زمونږ دادعا ژوندي اوبرالادليلونه دي خو تير كال دنوبل دسولي جايزه دغه بي وسه اودسترومادي ځواكونو تراغيزي لاندي سازمان ته وركړل شوه .

عجيبه لاداده چي سږكال ترتير كال هم له دغه جايزي سره ستره ټوكه اوجفا وشوه اودالفر دنوبل دوصيت پرخلاف دغه جايزه دمليونو نو انسانانوسترقاتل ګورباچوف ته وركړل شوه ، كه الفر دنوبل ددغه جايزي دمستحق په باب داوصيت كړي واي چي هرچا دماړونو نه زيات كاړواخيست اوډيري خوني يي سپيري كړي نوبيا يقيناً ترګورباچوف ښه مستحق ددي جايزي لپاره بل نه ؤ خواوس نه پوهيږودسولي تعبير بدل شوي كه ددغي جايزي ماهيت اوارځښت ؟!!

ګورباچوف ته ددغه جايزي دوركولو دليل دنوموړي كميټي لخوا داښودل شوي چي ګورباچوف په خپل هيواد كي خلكو ته آزادي وركړي له ختيځي اروپا نه يي خپلي پښي سپكي كړي اوله افغانستان نه يي خپل تيري كوونكي پوځونه وايستل .

بايد ووايو چي ګورباچوف دغه اقدام دكوم نيك نيت اوسولي اوامن دټينګښت لپاره نه دي كړي له افغانستان څخه پوځونه ايستل ، په خپل هيواد كي يو لږ آزادي اعلانول او له ختيځي اروپا څخه خپله ښكيلاكي لمن ټولول ديو لړ مجبوريتونو له مخي وو چي پرته له دي دروس واكدارانو ته بله لاره نه وه.

نور په افغانستان كي دروسي پوځونوپاتي كيدل د ګورباچوف اوروس دپوزي پري كيدل وو ،

«٧» مخ

ازپيروزيهاي تكتيكي تاپيروزي ستراتيژيك جهاد

نوي - تازه

درمجادله وكشمكش هاي سياسي ونظامي تاكيد بيشتر بر موفقيت تكتيكي صورت مي ګيرد واين تاكيد بخاطري موكد است كه پيروزيهاي تكتيكي ميتواند پيروزي ستراتيژيكي راتضمين نمايد دست اندركاران نظامي وسياسي براي رسيدن به اهداف دوررس اقدامات وعملكرد هاي تكتيكي رامطرح مي سازند وباجمع بندي نتايج حاصله ازآنها به پيش بسوي اهداف ستراتيژيكي پيش ميروند .

اين قانون ميتواند فراګير وشامل حال جهاد ملت مجاهد ما نيز ګردد .

اګر ما به مراحل ګذشته جهاد يك نګاه مختصر نمائيم مي بينيم كه نخستين پيروزيها ويا پيروزيهاي كوچك متضمن پيروزيهاي بعدي وبزرګتر بوده است تا اينكه اين پيروزيها دشمن را به شكست مواجه ساخته است .

شكست روسها ورژيم كمونست كابل ازهمان كوچك ونخستين پيروزيهاي مجاهدين آغازيافته است واين روند تاآنجاكه بقاياي نابكار وپليد كمونيزم نيز از افغانستان محو ګردند ادامه خواهد يافت-با شكست روسها در افغانستان وتخليه خاك افغانستان ازلوث قواي سرخ روس ، جهاد مردم مجاهد افغانستان بمرحلهٔ قاطع ونهايي

> **هدف از جهاد،آزادي كشورما از الحاد وكمونيزم وايجاد يك حكومت اسلامي طبق ميل وخواست مردم مسلمان افغانستان است كه اين هدف ستراتيژيك جهاد ماماست .**

آن وارد شده است درينجا بايد ګفت كه هدف از جهاد،آزادي كشورما از الحاد وكمونيزم وايجاد يك حكومت اسلامي طبق ميل وخواست مردم مسلمان افغانستان است كه اين هدف ستراتيژيك جهاد ماماست .

طوريكه قبلاً تذكر رفت براي رسيدن به هدف ستراتيژيك بايد بر پيروزيهاي تكتيكي نيز حساب نمود درسلسله جهاد جنبش جهادي ما در اين اواخر دست آورد وموفقيت هاي جديد داشته است كه ازآن بايد بسود جهاد وبرنقص دشمن استفاده سياسي و رزمي نمود .

تأسيس شوراي قوماندانان سنګرهاي جهادي واتخاذ يك ستراتيژي مشترك بخاطر آزادي كامل كشور ورفع اختلافات تنظيمي وګروهي يكي ازان ګامهاي مثبت وسالم است كه ميتواند نبض جهاد راكاملاً به نفع مجاهدين تند تر نمايد . اختلافات دروني تنظيمي ازآن امراض مهلكي بود كه نيرووقدرت جنګي مجاهدين را تضعيف و شرايط را به نفع رژيم ملحد كابل تغير مي داد ورژيم كابل بارها با سؤاستفاده ازين بد بختي بزرګ نيروهاي جهادي راضربه زده است .

بارفع اختلافات مابين مجاهدين ديګر ميل سلاحهاي همه مجاهدين دشمن مشترك راهدف ګيري خواهد نمود .

فقد ان ستراتيژي مشترك در ميان مجاهدين بخاطر آزادي كشورنيزازان مواردي بود كه پيروزيهاي موضعي وساحوي يا به عبارهٔ ديګر پيروزيهاي تكتيكي عليه دشمن راتضعيف مي نمود ومجاهدين نميتوانستند ازين پيروزيها بحيث ګامي بسوي پيروزي بزرګتر استفاده برند توقع است تاقوماندانان سنګرهاي جهادي با عملكرد مشترك نيروي خويشرا متحد وعليه دشمن چون سيلاب خروشان وقدرتمند بسازند .

پيروزي قاطع جمهوري اتحاد اسلامي پاكستان نيز يكي ازان مواردي است كه ميتواند در نيرومندي جنبش ما افغانها تاثير مثبت داشته باشد .

اين دست اوردهاي جديد توانست بازهم موضوع افغانستان وجهاد بر حق مردم افغانستان را بر خلاف تصور بعضي از سياستدانان در صدر اخبار جهان قرار دهد تعدادي از افراد اهل چنين پنداشته بودند كه با بروز بحران خليج ديګر از اهميت موضوع جهاد افغانستان كاسته خواهد شد اما انعكاس بين المللي تحركات جديد ايكه بخاطرايجاد اتحاد درميان نيروهاي جهادي براه افتاد ثابت ساخت تا انګاه كه درافغانستان حكومت اسلامي ايجاد نګردد موضوع افغانستان اهميت بخصوص خودراخواهد داشت

ملت مجاهدافغانستان اميد وار است كه اين پيروزيهاي تكتيكي ګامهاي متين وحساب شده باشد درراه پيروزيهاي ستراتيژيكي كه همان تأسيس حكومت اسلامي درافغانستان اسلامي است .

روس-امريكا دواړه دجهاد پرضد په توطئو اوسازشونو لګيا دي ځكه خوافغانان ددوى غوندواوخبرو ته هيڅ توقع اوامید نلري

پوښتنه : څرنګه چي عبوري حكومت تقريباًدسقوط سره مخامخ دي ستاسو په فكر بايد كوم ډول پروګرام اوطرحه رامنځ ته شي ؟

ځواب : بسم الله الرحمن الرحيم نحمده ونصلي علي رسوله الكريم اما بعد! دعبوري حكومت طرحه لكه څنګه چي په مدينة الحجاج كي د١٤ كسيز هيئت له خوا جوړه شوي وه ټيك وه خو دا چي وروسته پري عمل ونشو اواوس هم ګډوډي په كي موجود ده بيله خبره ده كه اوس هم په هماغه طرحه عمل وشي او په اتفاق او اتحاد سره عبوري حكومت داخل ته انتقال كړی شي دادمجاهدينو دپاره دكاميابی خبره ده .

پوښتنه : څرنګه چي په تيرو ورځو كي دملحد رژيم خارجه وزير هندوستان ته تللي ؤ اونجيب هم هند ته سفر كړي داسی ښكاري چي دافغانستان دكمونست حكومت اړيكي په دهند دحكومت سره نوري هم ټينګي شي ايا داكار به په جهادمنفي اغيزه ونه كړي ؟

ځواب : دكابل دكمونست حكومت دخارجه وزير اويا پخپله دنجيب تګ هندوستان ته دا په مجاهدينو كوم تأثير نلري ځكه دلومړي وخت څخه هند دروسانو سره يو ځاي دمجاهدينو پرضد د خپل ټول توان څخه كار اخيستي اواوس چي روسانو ماتی خوړلي نوهند هم څه نه شي كولي داداسي مثال لري لكه پښتانه چي وايي:خاوري راغلي په ايرو پوري واړول ، باد راغي ايري خاوري ټولي سره يوړي .

دپادولو وړده چي دهند په مقابل كي دكشميرمسلمانان راپاڅيدلي اوجهاد يي پيل كړي دی اوانشاالله چي دالجهاد به بري ته رسيږي .

پوښتنه : ويل كيدل چي دبش او ګورباچوف داوسني غونډ ي په خبروكي دافغانستان ربړه هم شامله وه خو دخپرو شويو خبرونو له مخي داسي ښكاري چي دوي دواړه كومي نتيجي ته نه دي رسيدلي پدي رابطه تاسي څه نظر لري .؟

ځواب : دبش ګورباچوف غونډي ددي دپاره نه دي چي دنړۍ دخلكو اوخصوصاً د مسلمانانو دپاره دي خيروغواړي بلكي ددي دپاره دي چي دواړه څه ډول دنړۍ هيوادونه دخپلو ځانونو غلامان وګرځوي اودافغانستان په مسٔله كي هم دتوطئو،سازشونو او منافقت څخه كار اخلي روس همدا اوس دكابل له رژيم سره له پخوا زياتي پوځي مرستي كوي خودلهمجاهدينو سره په مرستو كي ډير كموالي راغلي دی

> په هيواد كي دمرګ ژوبلي ټوله مسؤليت اودجګړي ددوام وخيم عواقب دروس اودنجيب دمزدوررژيم په غاړه دي -ځكه روس اومزدور رژيم يي دي چي دجګړي باعث ګرځيدلي دي

حكومت سوسيالستي ډوله حكومت دي،كله چي روسان وتښتيدل نوله

ځكه خوويلي شو چي دادواړه كفري طاقتونه دمسلمانانو پرضد په سازشونو اوتوطئو لګيا دي،له همدي امله افغانان ددوي خبروته هيڅ اميد نلري .

پوښتنه : فرانسي اونورو اروپايي هيوادونو دروسانو دوتلو څخه وروسته خپل سفارتونه دكابل څخه وويستل اواوس فرانسي بيرته خپل سفارت په كابل كي پرانستلي دي په دي هكله كه خپل نظر څرګند كړي مهرباني به مووي. ځواب : دفرانسي دوي سره هم ويره پيدا شوه اودخپل سفارت كار كوونكي ئې دكابل څخه وايستل مګر په كابل كي دروس دګوډاګي حكومت په دوام سره دفرانسي حكومت ته دافكر پيدا كيدل چي مجاهدين به ونشي كړاي كابل ونيسي بي ځايه ده ځكه خو اوس دهغوي دسفارت كاركوونكو هم په دي اعتراف كړي اووايي چي دحكومت دااقدام بي ځايه ؤ ځكه چي اوس پركابل دپخوا په نسبت جنګ شدت اوبراختيا پيداكړيده .

پوښتنه : سره صليب په كابل كي خپلي طبي مرستي زياتي كړي دي دوي وايي چي په كابل كي دمجاهدينو په راكټونو باندي ښځي اوماشومان لګيږي اودسره صليب په شفاخانو كي دماشومانو تعداد ترپخوا زيات شوي دي دبلي خوا دعبوري حكومت صدر صبغت الله مجددي په يوه مركه كي ويلي دي چي مونږ به خپل جهاد ته ادامه وركوو خو په كابل باندي دراكټونو ويشتلو چي په هغي باندي ښاريان دمنځه ځي مخالفتكووستاسي نظر به دي هكله څه دی ؟

ځواب : په جګړه كي مرګ ژوبله ضرورکيږي خودا ښكاره خبره ده چي دجنګ ددوام مسوولیت دنجيب دمزدور رژيم اوروسانو په غاړه دي مجاهدين مجبور دي خپل جهاد جاري وساتي اخر مجاهدين به تركومه پدي نامه چي په جګړه كي دښارونو تباهي راځي خپلي حملي ځنډوي .

مونږ يوځل بيا وايو چي په افغانستان كي دمرګ ژوبلي ټول مسوولیت اودجګړي ددوام وخيم عواقب دروس اودنجيب رژيم په غاړه دي مجددي صاحب چي كومه خبره كړي دا به ده دكومي شخصي ملاحظي اوباليسي له مخي كړي وي خو دقران حكم بدي هكله څرګند دي .

(كي ، جي ، بي) پټ اسرار رسوا كيږي ؛

كي،جي،بي په پنځو كلونو كي اوه مليونه انسانان وژلي دي

دامريكي د«ټايم » مجلي او د «واشنګټن »پسټ ورځپاڼي داكتوبر دمياشتني په ګڼوكي دروس او دپخواني ختيځ المان دپټو پوليسو ددستګاواوله هغوي سره دكابل دكمونستو مشرانوډګډ كاراو فعاليت په باب مقالي ليکلي ،چي دامريكا غږراډيو هغه خپرۍ كړيدي .

پدغه مضمونو كي دافغانستان په پيښوكي دروس دجاسوسي ددستګاه (كي ، جي ، بي) لاس ښودل شويد-ي مضمون داسي پيل كيږي .

په ١٩٨٥ كال كي غرب ته د«الوستوفسكي » تيښته كرملين ته ټكان وركړ . دی نه يوازی د(كي ، جي ، بي) لوړ رتبه مامور و بلكه ديارلس كاله يي دانګلستان داستخباراتو له اداري سره هم كار كړيدی.دی دروس داستخباراتو لوړ رتبه مامور دي چي له لويديځ سره بي همكاري كړيده .

مجله ليكي : د«الوستوفسكي » دتيښتي په وخت كي (كي ، جي ، بي) ترځمكي لاندي يوه ستره امپراتوري وه چي څلور سوه زره ماموربن ، دوه سوه زره سرحدي ساتونكي او بي شميره جاسوسان يي درلودل .

دټايم مجله زياتوي «الوستوفسكي » ته دجاسوسی شغل له خپل پلار اوورورڅخه وربپاتي ؤدی په ١٩٦٨كال كي پرچكو سلواكيا باندي دروسانوديرغل په وخت كي متوجه شو چي دروس يو ګوند يز سيستم دبشري آزاديو برضد دي نولدي كبله يي په ١٩٧٥ كال كی دانګلستان داستخباراتو له اداري سره همكاري پيل كړه .

په اوس وخت كي د(كي ، جي ، بي) لپاره ستركوابې دهغه ناپاكه سابقه تشكيلوي او ډيرو كلونو ته ضرورت دی چي دغه ناپاكه اوتوره سابقه بيا پاكه شي .

كي ،جي ،بي دستالين په وخت كي خلك ډيرو ربړول،دشاقه كارونو ډيرلوي جيلونه اوكمپونه چي ساري بي داروپاتاريخ ترننه پوري نه پيژني جوړكړل . دستالين ددوري دقربانيانو درسته اندازه به په هيڅ وخت كي معلومه نشي خو په ١٩٥٦ كال كي دكمونست ګوند دسياسي دفتر دغوښتني له مخي كي ، جي، بي تخمين ولګاوه چي د ١٩٣٥ څخه تر ١٩٤٠ كال پوري ټول نولس مليونه تنه بنديان اوله هغو څخه اوه ميلونه تنه دشاقه كارونو په كمپونو كي اعدام شويدي . خو كيداي شي چي دوژل شويو كسانو شميرله دي نه هم زيات وي .

ټايم وايي : روسانو په خپلو متحدوهيوادوكي دخپلو ناروااعمالو لپاره هيڅ ډول محدوديت ته غاړه نه ايښوده . روسانو نه يوازي په ١٩٥٦ كال په مجارستان او ١٩٦٨ كال په چكوسلواكيا كي ظلمونه اوناروواوي وكړي بلكي دمسكو په اصطلاح ټول وروڼه حكومتونه هم دخپلو ملتونو برضد دظلم اوتشدد لپاره ځان سره ملګري كړل . اوهغوي يي دخپلو خلكو دربړولو لپاره وروزل . خونن (كي ،جي ، بي) نور دټولو پټواسراروخاوند نه دی . په ختيځه اروپاكي ددموكراسي په لور خوځښتونو روسان افشأ او له بدي راتلونكي سره يي مخامخ كړل او دروس دپخوانيو انډيوالو هيوادوله «پټو » او «اشد محرم » دوسيو څخه دغه اسراريو ، يو رسواكيږي .

مجله دافغانستان په اړوند زياتوي مسكو په ١٩٧٩ كال كي په اصطلاحدوفادار شاګرد په واسطه دنورمحمد (تره كي) په مرګ چي دبريژنف دملاتړوړسېږی و ستركي پټي كړي .خو (كي ،جي ،بي) په افغانستان كي ددغي پيښي اټكل كاوه . د(كي ،جي ،بي) اجنټانودحفيظ الله امين پرضد دمسلمانورهبرانو دسخت مقاومت ، داردو دبغاوت ګواښ او دافغانستان

جهادي ادب

افغان چې کړي يو ځل اوچته توره د جهاد
نو بيا ورته نه کفر ودرېدی شي نه الحاد
د توري مېړني دي خو يو صف کې نه ودرېږي
پيدا کړي لويه خدايه (ج) په افغان کې اتحاد

«سر فالمزی»

شهيد

سعيد رهبر

ستا د پاکې وينې د سرخې او رنګينۍ په سر
مونږ ته د ژوندون د بهار و نو غېږې خلاصې شوې
ستا په وينو سور زخمي پښتون ته تر په مخ
مونږ ته چاپېره د کونو غېږې خلاصې شوې

ستا يوه نعره چې ستا د خولې نه رابهر شوله
لاړه د غليم په کوږ تندر په مثال شوله
ستا يوه نګاه د شوخ فطرت په پښتنې نظر
خداي و پېش خيمه د غليمانو د زوال شوله

ستا هره جذبه چې ستا په زړه کښې راوچته شوه
سمه ورېږم د سامراجيانو دنيا ورانه شوه
ای داسلامي دنيا باتوره ستا يو غږ سره
لاړه د ملت د دښمنانو دنيا ورانه شوه

ستا هر يو تکل د خپلې خاورې د عظمت په نوم
شنخ لکه د غشي استعمار ته په تتر شولو
ستا استقامت او استقلال د پښتنې وجود
کوم خوانه چې هم وشو يلغار نو ور ته غر شولو

ستا د مرام مينه په وار کومې د ستا يلوده
داچې زړه او سپين تول سامراجيان په لړزان کړلو
ستا رنګينه وينه خداي و څومره زور ور وړ ده
داچې غاصبان يې ټول اخته په ويردځان کړلو
ستا شهادت په طفيل مونږ ته تور تمونو کښې
خداي و در نيا د منزلونو لارې خلاصې شوې
ستا د قربانۍ او د ايثار ثمر مو وموندو
مونږ ته پل په پل د رفعتونو لارې خلاصې شوې

خودخو د دوران د بام د سره په قدم قدم
اى خوږه شهيده ستا مرانۍ ته سلام کېږي
خودخو د وطن ذره ذره فخر په تا کوي
خودخو ستا د پاکې وينې د ومره احترام کېږي

ولسي ادب په ورانګوکې

دمجاهد دتکبير غږ پورته آسمان ته رسي
نبي سلطان ته رسي
دمديني نبي سلطان ګوری عمونه ټول دمسلمان ګوری
دالله (ج) دالوی امتحان ګوری
دافغاني ځوانانو غږ عربستان ته رسي
نبي سلطان ته رسي
داسي ځوانانوته سلام زما ، دغه سلام په احترام زما
دااحترام دي وی مدام زما
دتوري شرنګ يی له کابله ، بدخشان ته رسي
نبي سلطان ته رسي
غواړي کرم دکردګار - نظر دپاك نبی سردار
ځکه نعري کړی دچهاريار
دادچهاريار نعرې سم حوروغلمان ته رسي
نبي سلطان ته رسي
له سره تيردبدريانو په شان داصحابانو په شان
دکاميابی غږ به يی خوږ دټوله جهان ته رسي
نبي سلطان ته رسي
خلقيان به ورك کړی له ميدانه ، دغه بی دينه ګمراهانه
دغه بی پته ظالمانه
په خپل غيرت سره علی شاه مردان ته رسي
نبي سلطان ته رسي
دادبيرك مخ به ورتور کړی عجيب به هم سرور په ګورکړي
داسور بيرغ به يی نسکور کړي
دسپين بيرغ صفت به څوکو دجهان ته رسي
نبي سلطان ته رسي
داغيرتي زلميان غزاکوی نن‌په دی غزاکی درب رضا ګټی نن
درب رضا به غناګټي نن
د «قريشی» دعشق لمبی عرش درحمن ته رسي
نبي سلطان ته رسي

«قريشی»

جهادي فولکلور

يوه ورځ دری تنه يو جاپانی ، يو روسی او يو افغا نی په بېړی کی ناست ؤ او په سمند رکی تفريح کوله ، په خپل منځ کي ژمنه وکړه چی د هر چا په هېواد کی چی څه زيات وی هغه به سيند ته غورځوو.
جاپانی د خپل لاس څخه ساعت خلاص کړ ايسته يي ورغورځاوه اووی ويل دا زمونږ هيواد کی زيات دی، روسی کلاشينکوف ته لاس کړ ايسته ئی ورغورځاوه او وی ويل دا زمونږ په هيواد کی زيات دی .
افغانی په فکر کی ډوب شو چی زه څه شی وغورځوم ، ناڅاپه ئی په روسي ورمنډه کړه، غېږه تری تاو کړه ايسته ئی وغورځاوه اووی ويل دا زمونږ هيواد کی زيات دی.

لنډۍ

خــــدايه دابوری غرســوری کړې
چې ترې راووځي مجاهدبر سرونه
څوکې کی دوه تربرونه خوند کړې
چې يو زخمی شی بل پټی به لسګوينه
ملاتــړه تــوپـــک راواخـلـه
په خوست تعرض دی مجاهدسنګرته ځينه
داتحـــاد بيـــرغ دې ريـــږي
له هرسنـــګره دتـکبير اوازراځينه
مادبکتيا تر غـرونو ځـارېږي
چې يې به هره برخه جوړدې سنګرونه

محمد هاشم «رحيمي»

> که په ژوند مو د چا اوښکی پاکی کړی هغه به مو په مرګ توی شی.

دهجرشپې

زمونږ د هجر يو څو شپې دي آخر تېرې به شي
که هرڅو سترې دي اوږدې دي آخر تېرې به شي

دسپېده داغ نښې ښکارېږي سپين سحر به راشي
که نن خورې تورې تيارې دي آخر تېرې به شي

بېر ته به راشي پسرلي زمونږ په سوي ګلشن
دبېړ بو کيو څو د و رېږ دي آخر تېرې به شي

تر شنه آسمان لاندکښاوسو بيا په خپل وطن کې
که نن شپې د ژوند ترخې دي آخر تېرې به شي

دا د ستم سيلاب به تم وي د ايمان په ټېلو
که زور ورې يې څپې دي آخر تېرې به شي

زمونږ پر مېنه به د مينې ګلان وغوړېږي
نن که قتلونه غرغرې دي آخر تېرې به شي

داشاوخوا زمونږ پر سرونو د ستم ورېځې
دتکبير چيغې پرې خورې دي آخر تېرې به شي

زمونږ له غمونو ډک زړګي به له خوښيو ډک شي
که موهرڅو برخې سپېرې دي آخر تېرې به شي

تکل

د بې وسو سوغات

شفيقي

سهار مي يو ځل بيا له بي بي نوري توري سره وليدل وېښتي ! تاسو به فکرکوي چي بي بي نوري توري به کومه دوره صدارت کړي وي يابه لږ ترلږه دپارلمان غړي پاتي شوي وه ، نه ، نه ! داسي نه ده ، بي بي نوري توري به که مي خداي (ج) غاړه بنده نه کړي برخپل مرحوم خاوند اواولادونو هم لاپه خپل غريب کاله کي حکومت نه وي چلولي وار خوددومره لويولويو خبرو شو ، ځکه هغه په تورتکي نه پوهيده او بهر څه چي کابل بي لابه خوب نه ؤ ليدلي ، هغه بيچاره ګي په خپل شپيته کلن ژونديو خپل بلارني کلي بنه ليدلي ؤ يويي زمونږ کلي چي ورته راواده شوي وه اويو هم دخپلي لور کلي چي لور بي ورواده شوي وه او بس هغه يوه غريبه کونډه ده ، هسي خو دي سرچپه انقلاب خلك ډېرو ځپل خودايي دسرله سبوري او دژوند دملګري له ګټي وټي اولوريني ئه هم بي برخي کړي ده زه چي بېګاله جبهي نه راغلم دکليوالو په ډله کي بي بي نوره توري هم وه چي له مانه يي دجنګ جګړي په باب تودي تودي پوښتني کولي، ماچي بيګا دجبهي کيسه کوله دي خوارکي داسي په ځير غوږ نيولي ؤ چي تابه ويل که کومه خبره وانه وري ستره ګناه به ري او خوله يي تياره ژړاته جوړه کړي وه ماويل که دکوم شهيد اويا ټپي په باب څه ووايم بس له واره به يي دژړا کريږي پورته شي او چي کله ما دمجاهدينو دبري او برلاسي په باب تسلي ورکړه نو ورو ورويي دتندي ګونځي غوړيدي تابه ويل بيرته مخ پرځواني روانه ده ، زما دخبروپه پاي کي يي سر پر سر شکرونه وايستل اودوعا ګاني ي لمبرکړي

ښه زويه ! خداي (ج) دي بري درکړي په خدايه که زمونږ په دوعا وو کيږي ته مجاهدين کاميا ب «کامياب» کړي يه خدايه يو ويښته يي مه زيه «ضايع » کوي ...

هغي داسي له سوزه په اخلاص دوعا ګاني کولي لکه چي مجاهدين بي ټول زامن اوورونه وي اوبيا چي نن سهار هغه بيا ما وليده نوفکر مي کاوه چي دشپي بيا څه سودا ورلويدلي او دچاپه باب څه پوښتنه کوي ، خو به پلو کي يي څه غټه غوټه پته نيولي وه ، او چي له ما سره مخامخ شوه په تندي کي يي دخوا خوږي اوخجالت احساس له ورايه لوستل کيده ، مابه خنداورته وويل توري ! لکه چي دشپي بيا څه

پاتې په (۵) مخ

لښې

صديقي

زمونږ پرکلي «سپين غر» پاچاهي ا چلوله ځکه يي د «سپين غر» داحمد خيليو »په نوم ياداوه که «سپين غر » به دوا وری سپين کفن واغوستل زمونږ کلي به يي هم دځان سره رانغاړه اوکه بيا به باران ګلی او ... وربانډي راغله ده به زمونږ برخه تري جلاکوله ، خو که بيا به دخوشحالی اونيکمرغی خبره شوه دهغی به يی هم نه بی برخی کولو که په کور مه کی به ګرمی پرخلکو باندی شپی ورځې راتنګی کړی د به موږ باندی خپل ملايم شمال راوراوه او دکورمی ګرمی مخی ته به يی غټ پاټك واچاوه هغه تل دمصيبتونو په وخت کی زموږ ترڅنګ دريدلی که پر موږباندی به سخته شيبه راغله ده دمينی غيږپرانيستله اوموږ به يی پکی ويده کولو که کله به کلی دروسی الوتکو تربمباردلاندي راغی اويابه قوا يرغل وربانډی راکاوه « سپين غر» دبه خپلو وزرونو لاندی

پاتې په (۵) مخ

دصدرالدین آغاخان دمرستی پروگرام پرکومه خوا روان دی

عوض الدین « صدیقی »

پدی وروستیو کی "مسترمایك ـ گریت " د پرسونل ضد ماینونو متخصص چی تقریباً" اتلسکالد ئي د انگلستان پد پوځ کـی د قوماندان پد حیث کار کړی او اوس د افغانستان پد باب دملګرو ملتو د پرسونل ضدماینونودخنثي کولو پد پروگرام کـی کار کوی د امریکا د جبرال نیوز ورځپانی سرد پد مرکد کی ویلی :هغد پیسیچی ملګرو ملتو د ماین پاکولو لپارد د خلکو د روزلـو او مهاجرینو دغلطی برسی پد لار کـی مصرف کړی، ټولی بی ځایـد ضایـع شویهغد زیاتد کړد:د ملګرو ملتو ټولی پیسی پد افغانستان کـی بی ځایـد مصرف کیږی.

د افغانستان پد باب د ملګروملتـو د ماین پاکولو او د افغانستان د بیاآبادولو پروګرامونه هغد وخت بیخـی زیات شول او پـد پیښور کـی یی غـوغـا پـورتـد کړد چـی د افغانستان څخـد د روسیـی پوځیانو د تیښتی پروسـ۳ـد تکمیل شـود دوی پـد ډیـری چټکتیا سـرد خپل کـاروند پیل کـړل ، پیښور کی یی بند بند تعمیرونـد ونیول د خپلو کارکوونکو لپارد ئـی تر ټولو ښـد موټر واخیستل دماینونو د خنثی کولو لپارد ئي د خلکو د روزلو پروګرامونه اعلان کړل او د مهاجرینو لپارد د ملګرو ملتودمرستـو مشر صدرالدین اغاخان داسیمدی را مندی پیل کړی چی دپیښوربنا ر او د هجرت دیار ددوی پروپاګندید سرواخیست خو پد اصطلاح مرستـو کاروند او د پروګرامونو چټکتیا ئـی یواځی پد پیښورپوری محدودد پاتی شود صدرالدین اغاخان او دملګرو ملتو د افغانانو او مهاجرینو څخـد د غلط برداشت پـد روحید کار پیل

کړ دوی داسی وانګیرلـد چـی د افغانستان څخد د روسی پوځونو پد وتلو سرد بد جنګ پای تد ورسیږی او مهاجرین بد خپل هیواد تـد ستاند شـی خوداورتـد ند ود روښاند شوی چـی مهاجرینو دا دومرد کړـ اونـد یواځی او یواځی د اسلامی حکومت د قیام لپارد ګاللی لـدي هم کد ورتیر شو چی ملګرو ملتو د مهاجرینو د ورتك يد باب غلط لار غورد کړی ود او مهاجرینو هغد بـد یود عـبر سرد ځواب کړد دوی د ماینونو د پاکولو پـد برخـد کـی هم څـد کار ونکړ پداسی حالکی چی مجاهدینو ددی کار سرد خورا زیاتد دلچسپی لرلد او د مجاهدینو زیات شمیر تلفات دهمدیځاحـید دی د ملګروملتو د یوی احصائیی لد مخی پد کال کی تقریبا "۲۰۰۰ افغانان د پرسونل ضد ماینونویـد وسیلی سرد معیوب کیږی .پداسـی حال کـی چـی د نورو هیوادوید مرستو سربیرد یواځی امریکا دوهکالد یخـوا لـس ملیوند ډالرد د ماینونو پاکولو پروګرام تد مرستد ورکړد خـو ددوی ددغدکار هیڅ نتیجد معلومـد ـشود کد څد هم چی ملګروملتو د ماین پاکولو دود اونیزکورسوند هـم پیل کړل چی پدی کاربـاندی یـی ملیونونوډالـرد مصرف کړل او هغـو مهاجرینوتـدچـی داپروګراموند یـی تعقیبول (۳۰۰) کلداری هم ورکولی خوداپروکرام ئي دومرد ضعیف وچی زدد کونکو بد تر فارغیدوروسـتـد افغانستان تـد دتك زرد نـدښهکاوه یو زدد کوونکی چی داکورس ئـی تعقیب کـړی و ء وویل !داپروګرام ډیر ضعیف و ء او ملګرو ملتو چـی پدی لارد کی څد مصارف وکړل ټول بی ځاید ود زمور استادان پـدی نـد پوهیدل چی میـنوند څد ډول د ی

او روسانو تراوسد څودولد ماینونـد استعمال کړی هغد زیاتد کړد: ماتد دکورس لد جریان څخد معلومد شود چی دوی ند غواړی پدی برخـد کی د زړد لد تلد کار وکړی او ز ه پـد روښاند توګـد ویلیشـم چـی مجاهدین پـد مین پاکولو کی تـر ټولو ښـد تخصص لـری.

ملګرو ملتوپـد سـرکـی اعلا ن کـړی و چـی (۲۰۰۰۰) افغانان بد د ماین پاکولو لپارد روزی پـد داسی حال کـی چی څـوکـالـد کـیږی پـدی کـار بوخت دی اوتر اوسـد ئي یواځی (۲۷) تند افغاـ نستان تد د ماینونود خنثی کولـو لپارد لیږلیاو د هغوی د کارنتیجد هم هیڅ معلومد ند دد دوی دخپل دی غلط پروکرام د پرمخ وړلولپارډ داسی کسان انتخاب کړی چی اصلا هغوی ند د افغانستان لد داخـل څخد خبردی اوند داورتد پتد د د چی روسانو څد ډول ماینود ښـخ کـړی ددی کار لپارد بایددویعملا " د مجاهدینو سرد پد تماس کی شوی وای ځکد چـی د حالاتو مستقیـم ناظرین دیید هرصورت اوس چـی چـی ملګرو ملتوند پدی پوهیدلـی چـی پروګرام یی ناکام پرمخ روان دی او ددی پروګرام یود مطرحغړی "مستومـا یلکریت"د اعتراض پـد عنوان استعفی ورکړی کد دویغواړی چی واقعا " د افغانانو لپارخدمت وکړی او څـد استعماریپروګراموند نلوی باید د خپلو کارونو دیرمختك لپارد د مجاهدینو سرد پد تماسکی ـشی ځکد دا د دوی د پروګرام د بریالی پرمـخ ورلو یواځنی لارد د او بـس.

همسریکی از ژورنالستان امریکایي گفت :
زنان افغان بدربار خداوند (ج) دعا کنند تابه پیروزی که شوهران شان درراه حصول آن جان داده اند نایل آیند

اخیرا"محفل یادبودی بمناسبت سومین سالگردوفات لی شیفرو و، جیم لند لوف دوخبرنگار امریکایـی کد در سال ۱۹۸۷درافغانستانکشتد شدند در واشنکتن برگزارگردیدد بود

گزارش مطبوعات حاکیستدرین ، مراسـم کد بد ابتکار بنیادیادبـود انها دایر گردیدد بود عـلاود بـر دوستان شان تعدادی ازاعضا ی کانگرس وافغانها و لنداشیفروخانـم شیفروهیزی لندلوف مادر جیملندـ لوف نیزاشتراك ورزیدد بودند .

خانم لنداشیفرو در مورد مرگ شوهرش ضمن صحبتی گفتد است : مرگ شوهرم برای من یك ضایعـد شخصی بود ولی من انرا ضایعـه نمیدانـم .زیرا من میدانم کـه شوهرم باعث پیروزی درراد خـدا شد .او وجیم لندلوف بد افغانستان رفتند وخود را درراهی قربانکردند کد باعث بیرون کردن روسهـا ا ز افغانستان شـد .

موصوفد افزودد است:اگر حیات شوهرم درین راد نثارشـد من فکـر میکنم ضایعد شخصی درمقایسد باـ دست آورد بزرگ ناچیز است .

وی در پاسخ باین پرسشحیث خانمیکد شوهرش رادرجنگ افغانستان از دست دادد است احساسـش در مورد خانمهای افغان کـد اعضای خانوادد های خویشرادرین جنگ از دست دادد انـد چیست گفـت: مـن وضـع انهاراخوبدرك میکـنم بحیث مادران وزنانکهفرزندان وشوهران شانرا قربانی کردد انـد . وی علاود داشتد است :من بعـد از مرگ شوهرم دریافتـم کد ایـن قربانی بمـن نیروی معنوی بیشـتری دادد است ومـن واقعـا " زنـان افغان راتشویق می کنم کد صرفدر غـم وغصـد فـرونروند بلکد بـه دربار خداوند (ج) دعاکنند تابـه آن پیروزی نایل آیند کد شوهرآن ، شان در راد حصول آن جاندادد انـــد .

همچنان هیزی لندلوف مادر ـ جیم لندلوف نیز درین محفل گفت: واضحا " مـن ارزو میکنم کد پسـرم زندد می بود اما من همیشد حسـن می کـردم کد پسـرم میخواسـت باین کار دست بزند .وی وضـع ناگوار افغانهارا میدانست واوچنا ن زیاد درموردانها کار کردد بودکـه فکر می کنم حق خودرا اداکردد اسـت.

موصوفد افزودد است :برای پسر مـن راد دیگری نبود همیشد جدل بین حق وباطـل بود ودرین میان راه دیگری نیست .اوهمیشـاحساس میکرد کد در حق افغانستان ظـلـم شده واگرمردم دربارد افغانهابیشتر میدانستند شـاید کاربیشـتریانجام میگرفت ،ند صرف سـلاح یاپول بـه دسـت می آمـد بلکد فشار بیشتري جهانی بد شوروی اعمال می شـد.

باید علاود کرد این دوژورنالست هنگامی درسال ۱۹۸۷ درنـزدیکـی کابل کشتد شدند کد مصروف تهیـه فلـم مستند دربارد وضع ناگوارمردم افغانستان بودند.

اجساد این دوخبرنگار بدسـت نیامدد است اما در قبرستان کانگرس مجسمد نیم رخ برنجی شان یادشاـ نرا در اذهان دوستان شان زنده نگهمیدارد.

دبي وسو سوغات ...

سودا درلویدلي چي دومره په وخت بیا راورسیدي !

هغي ښکته وکتـل خپل خیرن او زوړ ټیکري یي پر سر سم کړ، ورو یي وویل :نه زویه ! ټول مي په خداي سپارلي .

بیا یي ماته وکتـل دشرم څپي یي دمخ په هسکو تیتو کي یو ځل بیا په غورځنګ شوي ډاسي ښکاریده لکه څه چي ویل غواړي خونه شي ویلي نو ماورته وویـل :ښه نوترورې خیریت خو دي ؟

هغي بیا په همغه شرمناکه لهجه ورووویل :

زویه ټوله شپه مي چورت واهه چي کاشکي څه شي واي مجاهدینو ته مي استولي واي ، خو تـشه لاسه دښمن مي ته یي تاته مي حال معلوم دي بیا یي له پلونه دزردالیو یو ډك دستمال زما مخي ته کیښود او زیاته یي کړه : دغه هم ښه دي مجاهدین به لږ حلق ورباندي لوند کړي زه حیران شوم ځکه بي بي نوري توري دوي باغ نه درلود نومي ورته وویل : ګوره توري داموله کومه کړي تاسوخو ....

هغي وخندل ویي ویل زویـه دامي پرون لور رالیږلي ووماغوښتل ورته ووایم چي تاسو باغ نه لري زه دانه وړم مجاهدین میوه ډیره مونډلي شي خو دامي به مقصد وپوهیده زریي وویل : زویه ! مور دي خاوري وخورو، دابه خامخا درسره وړي خیر دي ورباندي شرمیږه مه ، دازما غوندي بي وسو او بي کسو سوغات وبوله کاشکي زما وس واي چي بـسـونـه مـي درتـه حلالولي ، تاسوبه وینئي تویوي ، ځواني به خاوري کوي او مور به بیاله تاسو نه څه سپمواوماچي دزردالیو دستـمال تـه وکتل لـکه دټولي دنیا نعمتونه چي پکي نغښتي وي او ټول بي بي نوري توري مجاهدینو له استولي دي .

نبني ...

دکلي ټول ماشومان او لویان خوندی کول د «سپین غر» تولی دری به دکلی د ماشومانو لویانواوښځو پرمخ خلاصی وی او دکلی خلکو به هم په بیره بیره ځان ورساوه

پـردی ورځ هم کله چی پـر کلـی روسی الوتکی راتیتی شوی او دڅو بمونو په غورځولو سره یی دوینو چینی راوخوټولی پر ټول کلی باند ی دوبری اوغم خپـی منګولی ولګولی اوهری خواکوکی اوفریادونـه پورتـه شول ټولو لـه ویر ی دسپین غر. غیږی ته ځانونـه رسول نه مور په زوی خبر وه نه زوی په مور اونه خور په ورور، هر یوه کوښښ کاوه چی داور له لمبو ځان وباسی له کوروونو څخه سری شغلی داسمان پـه لـور پـورتـه کیدی ، دلرګیو یوه ترکاوه ټولوله « سپین تنګـی » څخـه داوښکودکی سترګی دکوروونو دسوزیدوننداره کوله خو لـه هیـچا سره ددی وس نـه ؤ چی داور مړه کیدو تـه ملاوتړی ، الوتکو هماغسی بمباری کوله اوچی کله تر یو ساعت بمباری وروستـه خلك راستانه شول کلي دخاورو سره خاوری شوی ؤ یواځی سوزیدلی خاوری اود تیرونو انګار ددوړوپـه منځ کی سترګـکـه وهل اودنښی پـه توګه پاتی ؤ.

دمقاومت دبري په لارکي ستونزي اوخنډونه

عبدالوکیل

دبشري ټولني دپيدايښت څخه راواخله تردي دمه پوري دظلم اوتيري فاجعي په هغه اويا دغه څيره دانسانانو او ملتونو تر منځ راڅرګند شوي اودحق اوباطل ترمنځ معرکه جريان لري دنړۍ په تاريخ کي بي شميره امپراتورۍ تيري شوي او همدااوس دشلمي پيړۍ په نيمايي اواخروکي استعمار په نوي بڼه دشرق اوغرب د دووبلاکونو په نوم دملتونو ايللوته په توطئو لګيا دي.روسانو دپطر کبير له وختوڅخه راپه دي خوا دافغانستان نيولو ته پښي دربولي اودامريکا متحده ايالاتو ددوهمي نړيوالي جګړي څخه وروسته دانګليس دامپراتوري ځاي ونيولو . ددوهمي نړيوالي جګړي څخه وروسته دامريکا متحده ايالات اوروسان په نړۍ کي دابر قدرتونو او ديو بل په مقابل کي ددووسختو رقيبانو په څير راڅرګند شول اوکله چه دامريکا متحده ايالاتو ، پاکستان ، ايران ، ترکيي ، اوعراق ترمنځ دبغداد تړون لاسليک شونو دروسانو لپاره دافغانستان سره دسياسي ، اقتصادي ، نظامي ، فرهنګي اونوروټولنيزو اړيکو دټينګولو شرايط نورهم تيار او برابر شول دنوموړواړيکو برقراري دمحمدظاهر دټولواکي اومحمد داؤد دفردي نظام په دوران کي عملي جامه واغوسته . دروسانو سره دافغانستان اړيکي پرمختلفو اړخونو کي ديوي ورځي څخه بلي ته زياتيدي اودمحمد-داؤد دفردي نظام په وروستيو کي ددغو اړيکو ژوروالي دمحمد داؤد ترمرګه پوري رسيدلو . نوځکه خو کله چه يي وغوښتل دنوموړواړيکو څخه ځان خلاص اووباسي سريي دتني څخه جدااوتنه يي دروسانو له دوستي څخه قرباني شوه دروسانو لپاره دافغانستان اشغال په نظامي اواقتصادي لحاظ خورا مهم ؤ ځکه چه له يوه طرفه دافغانستان اشغال دامريکا متحده ايالاتوپه مقابل کي او دروس دکمونستي امپراتورۍ دشمالي منطقو دامنيت لپاره په زړه پوري مورچل ؤ اودبله طرفه دروسانو لپاره يي په ايران اوپاکستان کي دنفوذ ښه شرايط اوزمينه برابرولي ددي په څنګ کي دافغانستان ټول اقتصادي منابع بشپړ باتي شوي و روسانو ګوله ليده خو دهغي سره اغزي يي په نظر کي نه راتلل اودملي او بين المللي شرايطو اودافغانانو دتاريخ اوفطرت دپه پام کي نه نيولو سره يي دتوريالو پدغه خاوره يرغل کولو ته ملاوتړله .

پخواله دي چه پر افغانستان پوځي تيری وشي دافغانستان مسلمان اووطن پال ولس ته دروسانو نمايندګان (دخلق او پرچم ډلي) اودډوي ناولي اهداف اوکړه وړه څرګند شوي ؤ. خلقيان اوپرچميان لا د۱۳۵۷ هـ ش کال دثور وطن ورانوونکي کودتا څخه پخوا په کليو اوبانډو ، ښارونو اوجماعتونو کي دبي دينه ، بد اخلاقه ، بي قوله ، بي کلتوره ، (دافغاني په زړه پوري عنعناتو ضد) دهري ، فاسق ، دروسانو دجاسوسانو او وطن پلورونکو په نوم مشهورشوي ؤ . خوکله يي چه دثور له فاجعي څخه وروسته ټول سياسي قدرت په خپلو لاسونو کي متمرکز کړ نو ډير زريي نوموړوبد وصفتونو ته په عمل کي لا نور هم تحقق ورکړ . اما زړورو په اسلام مينو او باتوره افغانانو ډير زرتهوبک ته لاس کړ او په وطن پلورونکو يي ورودانګل خو دهغو ي دبشپړ سقوط او راپرځوني څخه پخوا ددوي روسي باداران دپرمختللو وسلو سره پر افغاني خاوري پوځي تيري وکړ اودافغانستان مجاهد ولس يو ځل بيا دلوي ازمويښي سره مخامخ شو .

دافغانستان قهرمانو مجاهدينو دپلرونو او نيکونو څخه په پاتي شويو او دروسانواوددوي د مزدورانو څخه په غنيمت نيول شوو وسلوباندي دروسانو سره مقابله پيل کړه چاړي اوتبرونه يي پکي وازمويل دالوتکو بمباردته يي په سپين ميدان خپل ټټرونه ډال کړل او د «الله اکبر » په نارو سره په مرچلونو او ټانکونو وروختل او يو ځل بيا يي دميړنو پلرونو،نيکونو اتلوالي او دځان تيريدني خاطري را ژوندۍ کړي دروسي ټانکونو،الوتکو اوتوپونو په واسطه په مليونو مجاهدين شهيدان شول،ښځي،زاړه او واړه يي په وينو ولمبول،کلي او کورونه يي وران، باغونه اوکروندي يي ويجاړي کړي ځکه خو افغانان مجبورشول چي خپلو اسلامي ګاونډيو هيوادونو ته هجرت وکړي خو دايي روسانو او ټولو نړيوالوته په ډاګه کړه چه افغانان به دسراومال څخه تير شي خو له اسلام او وطن څخه نشي تيريدلي.دا جريان دامريکا متحده ايالاتو او دنړۍ نورو هيوادونو په دقت سره تعقيباوه. ددوهمي نړيوالي جګړي څخه راپه دي خوا روسان دامريکا متحده ايالاتودسترګو اغزي وګرځيدل او دروسي کمونستي امپراتورۍ پراختيا دامريکا يانو لپاره دخطر زنګ ؤ ځکه چه روسانو ددي پخاطر پرافغانستان تيري نه ووکړي چه بيرته له شرميدلي ماتي سره به تري ستنيږي . خو کله يي چه دافغانانو بي دريغه مقاومت اولوړ جګړه ايز مورال او سر ښندنه په خپلو سترګو وليده نويي دزاړه استعمارله خو به رابيدارکړل .

روسانوپه ويتنام کي دامريکا متحده ايالاتودپلانونوپه مقابل کي سخت خنډونه رامنځ ته کړل اوهغوی يي دي ته مجبور کړل چه بايد دويتنام څخه تښ لاسونه ، رسوا او ناکام ووزي خو کله چه روسان له افغانانو سره کيوتل نودلته وو چي امريکا له روسانو څخه دويتنام غچ واخيست په دي مرحله کي دامريکا دمتحده ايالاتو سياست دافغانستان دملي په اړوند داوچه دروسانو اوافغانانو ترمنځ دادحق اوباطل جګړه توده وساتل شي اوهيڅ لوری کامل بريالیتوب ته ونه رسيږي . نوپه داسي حال کي چه دافغانانو له وطن څخه دکربلاميدان جوړشوی ؤ ، دامريکا متحده ايالاتو ته په زړه پوري زمينه برابره شوه ترڅوکولي شي خپل استعماري حريف (روس) په اقتصادي لحاظ وځپي اوپه بين المللي ډګر کي يي رسوا کړي چه همداسي هم وشول . بالاخره روسان به دي پوره پوه شول چه که چيري دافغانستان څخه خپل نظامي قوتونه ونه باسي دروسي کمونستي امپراطوري داغيرنورمال خوځيدونکي زړه به په ټپه ودريږي نوددي لپاره چه ځان ته يي دختهو پوزه ايښي وي د «ژنيو » هغه موافقات چه دافغانستان واقعي نمايندګانو (افغاني مجاهدينو) پکي حضور نه درلود ، دامريکا متحده ايالاتو روسيي،پاکستان او دروسانو لاسپوځي رژيم نمايندګانوترمنځ لاس ليك او په هغه کي دافغانستان څخه دروسي پوځونو وتل درج شول .

« نوريا »

****



کي.جي.بي په پنځه ...

داقتصاد دحتمي سقوط رپوټونه مسکو ته ورکول.

مجله وايي : دحفيظ الله امين دمسموملو له پاره د(کي ، جي،بي) يو مخکني اقدام ناکام شو . د(کي ، جي ،بي) اجنټانو د وضعي ورځ ورځ خرابيدو په وجه اټکل کاوه که چيري حفيظ الله امين له منځه يونه وړل شي نومقاومت بريالی کيږي او کمونست رژيم به دروس ضد په يو اسلامي نظام بدل شي .

د(کي ،جي ،بي) اودروس دبهرنيو چاروورازت په افغانستان باندي دروس دبريد پرخلاف دنړيوال عکس العمل له امله په ويره کي وو له دي سره سره دروس دکمونست ګوند سياسي بيرو په افغانستان باندي دبريد رايه ورکړه اوپدي برخه کي دکمونست ګوند دسياسي بيرو ټينګار پدي دليل وو چي په ايران کي داسلامي بنياد ګرايانو په بري سره چي يوکال مخکي صورت موندلي ؤ،هرومرودغه غورځنګ دپولي نه اخواپه افغانستان کي به هم بريالی شي .

ټايم ليکي : د۱۹۷۹ کال ددسمبرد اوه ويشتمي په ماښام د(کي ،جي ،بي) يوه ضربتي قوادډګروال (بابرينوف) په مشرۍ دکابل له هوايي ډګر نه په دارالامان کي دجمهوري رياست په لور روان شول . دغه قوادافغانستان دعسکرو په يونيفورم ملبس وواو نظامي وسايطو يي هم افغاني نښان درلود ، (بابرينوف) دجګړي لاربښوونه په غاړه درلوده .

دټايم مجله د(کي ،جي ،بي) دغړي له قوله ليکي : چي دحملي په وخت يي حفيظ الله امين له خپلي معشوقي سره چي دشراب خوړلو ميز ترڅنګ سره ناست وو دماڼۍ په پورتني پوړکي ووژل شو ، دغه روسي ډګروال امر ورکړ چي ټول افغاني عيني شاهدان دي ووژل شي پدي وخت کي خپله روسي ډګروال چي افغاني عسکري جامي يي اغوستي وي هم دخپلو عسکرو له خوا سهواً ووژل شو .

مجله زياتوي : دافغانستان واك ببرك کارمل ته چي د(کي ، جي ،بي)ډير پخواني ايجنټ اودروس سړی ووسپارل شو .

پدي ترتيب د(واشنګټن پسټ) ورځپاڼه هم دپخواني ختيځ المان استخباراتي دستګاه (شتازي) ديو پخواني لوړرتبه غړي له خولي چي نوم يي ندی افشاکړي ليکي : چي «شتازي » دظلم او وحشت يوه ستره دستګاه وه چي دختيځ المان يو مليون تنو پکي دجاسوس په طور کارکاوه . دختيځ المان داتباعو له پاره ترڅو چي ددغه دستګاه غړيتوب بي نه وي ترلاسه کړي کارنه پيداکيده .

د «شتازي » غړي دمګستونو دمتوسطه دوري نه استخدامېدل اوددوي لومړۍ وظيفه دخپلي کورنۍ جاسوسي وه

دواشنګټن پسټ ورځپاڼه د « شتازي » ددغه لوړ رتبه مامور له خولي زياتوي خو تاله مخکي دکابل دکمونست رژيم اوسني رئيس نجيب الله چي په هغه وخت کي دررژيم داستخباراتو ددستګاه (خاد) رئيس وو ختيځ المان ته لاړ اوبوه مباشث کي د «شتازي » له کارسره بلد شو.

دختيځ المان داستخباراتو دغه مامورويلي دي افغانستان د(کي ، جي ،بي) لپاره ډيرمهم ځاي ؤ «شتازي » ته يي اجاره نه ورکوله چي په مستقله توګه فعاليت وکړي

ورځپاڼي ليکلي : نجيب الله د(کي ،جي ،بي) اجنټانو سره يوځاي په لويديځ المان کي دافغانستان دمجاهدينو دمرکزونو پرضد عمليات کول .

واشنګټن پسټ زياتوي : (کي ،جي ،بي) په لويديځ المان کي دمجاهدينو په ټولو مؤسساتو کي نفوذکړي وو . برسيره پردي دختيځ المان په کمپونو کي هم زرګنه افغاني ځوانان دجاسوسۍ لپاره تررروزني لاندي نيول شوي وو.

شوراي فرماندهان جهادي ضربه محكم بر رژيم كابل

شير محمد

اززمانيكه شوراي فرماندهان جهادي درنزديكي توبخانه ولايت بدخشان داير گرديد ه ودران فرماندهان سرشناس چون الحاج مولانا جلال الدين حقاني ، انجنيراحمد شاه مسعود ، جنرال سيد جگړن . قاري بابا ، عبدالحق ، ملاملنگ ،خليفه عبدالواحد ، محمد امين وردك ، محمد انور ، بلال نيرم ، تورن نظري وديگر قوماندانان نامدار جهادي شركت ورزيده ودران فيصله هاي مثمري رادر جهت تسريع وانسجام عمليات محاربوي وفعاليت هاي جهادي به تصويب رسانيده اند رژيم مزدور كابل كه مرگ حتمي خود را درين فيصله ها مي بيند به تلاش هاي مذبوحانه دست زده گاهي پيامي عنواني شوراي امنيت ملل متحد مي فرستد يا شارزدافير حكومت پاكستان رااحضار ميدارد وگاهي هم درتفرقه اندازي بين نيروهاي جهادي سعي مينمايد .

ازطرف ديگر هم سعي مي نمايد تا توسط يك تعداد كمونست هاي خود كه در لباس بي طرف جازده شده اند موانعي رادر مقابل جهاد برحق مردم افغانستان ايجاد كند . چنانچه چندي قبل به اشاره باداران روسي خويش رژيم فيصله نمود كه هيئتي متشكل ازاشخاص به اصطلاح بي طرف وسر شناس به پاكستان اعزام گردد وبا رهبران تنظيم هاي جهادي بازديد بعمل ارند تازمينه مذاكرات بين رهبران جهادي ورژيم كابل رامهيا سازند .

درحاليكه ملت مسلمان وكفر شكن افغانستان تمام دسايس وتوطئه هاي دون همتان راازهمان اغاز قيام جهادي يكي پي ديگر خنثي ساخته ودشمن نتوانسته است درروند جهاد مقدس افغانها خدشه وارد كند زيرا مردم متدين افغانستان برعليه همين وطن فروشان كمونست ودورازاسلام قيام نموده كه بياري ومدد گاري خداوند عزوجل روز تا روز منسجم تر ونيرومند تر گرديدند تااينكه باداران به اصطلاح شكست نا پذير شان در مقابل مجاهدين اراسته به ايمان وعقيده اسلامي افغانستان به زانو درامده واز خاك شير مردان رانده شدند .

آري!ملت مجاهد افغانستان اين موفقيت سترگ وعظيم راكه به بهاي خون شهيدان گلگون كفن وتحمل الام ومصيبت هاي گوناگون بدست اورده ومايهٔ افتخار تمام مسلمانان جهان ميباشد ، نبايد در نيمه راه بگذارند ونبايد موقع داده شود كه به علت بي اتفاقي ورخنه اندازي ، دشمن شكست خورده بازهم به پا ايستد ونبايد بدون رسيدن به هدف نهايي كه عبارت از استقرار دولت اسلامي در افغانستان توسط خود افغانها ميباشد به دسيسه وتوطئه هاي دشمن نيروهاي جهادي را پارچه پارچه وتضعيف نمود .

> **درين مرحله حساس وسر نوشت سازتدوير شوراي فرماندهان جهادي وبه تعقيب ان مذاكرات وتدوير جلسات درين رهبران تنظيم هاي جهادي كه بالاخره منجر به اتحاد واقعي خواهد شد ، اقداميست خردمندانه ثمربخش ومطابق خواسته ها وارمانهاي ملت مؤمن افغانستان.**

مردم مجاهد پرورافغانستان ميدانند همانطوريكه قدرت طاغوتي كمونيزم كه تقريباً سوم حصه خشكه جهان را تبسخير كرده بود وتوسط غلامان گوش به فرمان خويش بشريت رابه سوي نابودي مي كشانيد ، بالاخره دربرابر مجاهدين كفرشكن بزانو دراهد وكمونيزم رادر سراسر جهان به چنان رسوابي مواجه نمود كه امروز حتي خود روسيه نيز ازنام كمونيزم احساس شرم مي نمايد وهمچنان احزاب تمام ممالك كلمه كمونيزم را ازنام شان حذف ميكنند .

پس چطور ممكن است كه غلامان ورژيم دست نشانده روس درافغانستان تاب مقاومت دربرابر اين دلير مردان راه اسلام راداشته باشد اما براي فتح وكاميابي شرط اساسي عبارت از اتحاد ، اتفاق ، اخوت وبرادري واقعي در بين نيروي هاي جهادي ميباشد .

درين مرحله حساس وسر نوشت سازتدوير شوراي فرماندهان جهادي وبه تعقيب ان مذاكرات وتدوير جلسات درين رهبران تنظيم هاي جهادي كه بالاخره منجر به اتحاد واقعي خواهد شد ، اقداميست خردمندانه ثمربخش ومطابق خواسته ها وارمانهاي ملت مؤمن افغانستان.

به صراحت گفته ميتوانيم كه اين اقدام مؤثر ضربه محكمي است بر پيكر لرزان رژيم كمونست كابل كه مرگ حتمي وقريب الوقوع آن حتمي تر ونزديك تر ساخته است. (انشاالله)

هند دبحران په منگولو كې

صديقي

هند كي «تيټ ذاتي » هندوانو ته په دولتي چارو كي دوندي او برخي وركولو فيصلي «وي ، پي ، سنگ »ديوه خطرناك بحران سره مخامخ كړي او هغه اوس پخپله په دي بحران او كړكيچ كي ځان يواځي محسوسوي څكه هغه خلك چي «وي ،پي ، سنگ»يي دي فيصلي ته تشويق كاوه اوس ورك دي ،ددي فيصلي پر ضد په بيلابيلو ښارونو كي مظاهري رواني دي او دي مظاهرو حكومت دي ته اړ كړي چي په دي ښارونو كي اضطراري حالت نافذ كړي د حالاتو د خرابي پته له دي څخه ښه لگيري چي دكورنيو چارو وزير «مفتي سعيد » چي د نظم او امنيت مسول دي بيخي بي دركه شوي او صدراعظم اوس بيخي يواځي پاتي دی .

د «وي ،پي ، سنگ» هم دا حالت دي چي دهغه دگوند په دننه او بهر كي دټولو سياسي ډلوله خوا دده دله منځه وړلو پروگرامونه پر مخ روان دي دمخالف گوند مشر «راجيو گاندي » د «وي ، پي ،سنگ»څخه داستعفي وركولو غوښتنه كړي او هغه ته يي داپيغام ليږلي چي دده گوند دداسي يو حكومت څخه دملاتړ هيله لري چي دهغه مشر بل څوك وي .

دبلي لوري په يو دولتي هوټل كي د «وي ،پي ،سنگ» مخالفين پر غونډ وبوخت دي او د صدراعظم پر خلاف پروگرامونه جوړوي ، چي په هغو ي كي د«ارون نهرو » په شان د «وي ، پي ،سنگ» كلك ملاتړ كوونكي پردي خبره زوراچوي چي ددي دلي څخه دجلاكيدو لاري بايد ولټول شي .خو «وي ، پي ، سنگ»دتلويزيون له لاري خلكوته په ويناكي د «اختياراتو كميسون» پر فيصلي باندي دعمل كولو خبره بيا تكرار كړي او ويلي زه به هيڅكله په داسي حالت كي چي خپل پروگرام باندي مكمل يقين ولرم دخپلي فيصلي وانه وړم كه زما پر ايسته كيدو هم تمامه شي خو د «وي ، پي ، سنگ» ددي اعلان سره سره دهغه پر خلاف مظاهرو كي اوس دهغه ډير نږدي ملگري زده كونكي ، قاضيان ، مامورين او خبر نگاران هم شامل شوي .

يوه مياشت وړاندي په ځينو ځايونو كي مظاهري رواني وي موټرونواواور گاډو ته به اور ورته كيده د پوليسودمقابلو ډزو او بر خورد له امله به څني خلك له مينځه تلل خو ددي سره سره به سياسي حلقو ويل چي دا مظاهري به زر له مينځه لاړ ي شي او دا دليل به يي وړاندي كاوه چي دا مظاهري ترمعتدلي طبقي پوري اړه لري په دي خاطر به يي مظاهري تر ډيري دوام ونكړ ي ،خوكله چي دستمبر په (۱۹) د«دهلي » دپوهنتون يوه زده كونكي «راجنوكوسوامي »ځان ته اوروړته كړ او دتن (۵۰)فيصدو څخه زياته برخه يي وسوزيده ددي فيصلي پر ضد مظاهرو بل رنگ غوره كړ او په ډهلي ،حصار ، سرسه ، انباله ، لكنهو ، گواليار ، كوتا او غازي آباد كي ځوانانو دځان سوزول پيل كړاوس دي مظاهرو لا شدت موندلي او مظاهري نورو ښارونو ته هم خپري شوي حكومت د «چندي گهر »سر بيره نورو ښارونوكي دمظاهرو د ارامولو په خاطر اختيارات پوځ ته سپارلي .

«وي ، پي ،سنگ» په دي خاطر خپل دريځ باندي ټينگ دي چي فكر كوي ددي فيصلي مخالفين د طرفداران په پرتله كم دي او دمخالفينو د ارامولو لپاره ښايي د «تيټ ذات » هندوان هم سر كونو ته راووځي خو په اكثرو سيموكي چي ډير كم بر خورد پيښ شوي د «تيټ ذات » هندوانو ډگر مخالفينوته پري ايښي دي په دي حالاتو كي سياسي گوندونه پرقومي سطحه كومي فيصلي كولو ته چمتو نه دي ددي څخه معلوميږي چي هند بيا د گډوډي او كړ كيچ خواته پر مخ روان دي ، ددي پرته كه دا مظاهري دا قليتونو حكومت له مينځه يوسي د كوم مشر چي «وي پي سنگ » دي بيا به هم دسياسي گوندونو اومشرانو مخلوط حكومت پد ي كړكيچن حالت برلاسي نشي كوم چي د «اختيارلرونكي كميسون » دفيصلي له امله پيداشوي.

باجرئته هغه دي چي نا اميده كيږي نه ، د ژوند له ناكاميو څخه هم مايوسه كيږي . هغه ژوند كامياب ژوندي كوچي بړاڅي كامراني ولري .

دنوبل دسولي ...

دافغاني غازيانوجهادي غورځنگ دروسي پوځي ماشين په خاورو كي رانسكور كړي ؤ روس ته دروسي پوځونو دمړيو لړۍ روانه وه نوروس كه خپل پوځونه نه ايستل ضروريه يي مړي وړل همدارنگه دافغانستان جگړه نور دروس پر كمزوري اقتصاد يو داسي بوج ؤچي گورباچوف يي لااوس هم دلويديځ خيرات خور كړ ي دي .

همدغه راز دروس دننه دمختلفو قومونوآزادي غوښتونكو غورځنگونه نورله قابووتلي وواودگورباچوف اقدامات اصلاً ددغو غورځنگونودځپو دبيرته كرارولو لپاره دسولي اوامن پرخلاف يوشيطاني عمل ؤ خوداچي نور دغه غورځنگونه دروس له ښكيلاك نه دآزادۍ ترپولي خوځنده دي او دروسي استكبار دستم له تورتم نه به دخپلواكي ترسهاره لاره باسي بيله خبره ده .

همدغسي په اروپا كي هم دختيځ ښكيلاك اوخصوصاً دروس پرخلاف دپاڅون ځپي نوري داوسپني اوبارو تو په زور نشواي ايساريداي همدااوس هم گورباچوف دنوبل دسولي نړيواله جايزه په لاس كي دافغانستان اومحكومو اسلامي رياستونود ولسونو په وينو تويولو كي نيغ لاس اوستر نقش لري كه داومنو هم چي د ختيځي اروپا له هيوادونو نه دروسي استكبار په شاتگ له افغانستان نه دخپلو پوځونو ايستل اوپه خپل هيواد كي خلكو ته يو لږ آزادي وركول دگورباچوف سوله ئيز اقدامات ووبيا هم دسولي درشل ته تررسيدو پور ي گورباچوف ډير اوږده مزلونه او پيچومي په مخ كي لري دهغه پرمخ دوحشت ، بربريت او جنايت په لسگونو پردي غوړيدلي چي ددوودريو پردو په لري كولو هيڅ كله هم دهغه دسوله غوښتني ځيره نشي لوځيداي كه دهغه يا دشوي سوله ايز اصلاحات ومنوهم توپير به يي له پخو ا نه ديوه وړي خونړي او ليوني ليوه پرځاي يوازي ليوه شي چي بيا هم دليونتوب نشه اودلوړي حمله وربياندي راتلاي شي په مېښت يي ځيرونكي فطرت نشي بد ليداي هيڅكله هغه دانساني خويونوخاوند كيداي نه شي اوليوه ته دسولي جايزه وركول په جايزي باندي له ملنډو نه پرته بل څه كيداي شي ؟!

په هر صورت گورباچوف ته دسولي نوبل جايزي وركولو وښوده چي رښتيا هم نور دلويديځ اوختيځ شيطاني ښكيلاك ترمنځ دبيلتون او اختلاف ديوالونه نړيدلي اوبايد نوره نړۍ په ځانگړي ډول اسلامي نړۍ دخپل مستقبل په باب نوي فكر اوښه سوچ وكړ ي.

دبابري جومات پرسر په نښتو کي :

(۲۰۰) تنه وژل شوي دي

دبابري جومات مسٌلي دهند حکومت دسختو حالاتو سره مخامخ کړي .ويل کيږي متعصبو هندوانو دوه ځلي پردي جومات حمله کړي چي دهغوي دحملي دمخنيوي په ترڅ کي تراوسه (۲۰۰) تنه وژل شوي .

همدارنګه داترپرديش دبجنول اودحام بورپه سيمو کي هم د (۱۵) تنو مړي پيدا شوي تراوسه دبجنور په سيمه کي (۳۳) تنه وژل شوي ويل کيږي په دي ښارونوکي اوس هم اضطراري حالت دوام لري دبله لوري د«جبل پور» په سيمي کي هم نامعلومو افرادو په يوه جومات حمله کړي هلته خپل بيرغ ځوړند کړي او تسبتيدلي دی.

دجهادپرضد دبين المللي ...

دالومړي ځل دي چي دملګرو ملتونو دسر منشي له خوا دافغانستان دکشالی په رابطه په اصطلاح دغه نړيوالی موافقی په هکله خبري کيږی .

دملګرو ملتونو عمومي منشي خو لامخکی ددي خبر ي يادونه کړی وه چي دافغانستان دکشالي له پاره دروس امريکا توافق اساسي شرط دی.

دافغانستان دمجاهد ولس دقهرمانانه جهاد په رابطه دروس امريکاتوافق!!! خبره داستعمار هغه ظالمانه اوبيشرمانه سازش دي چي غواړي لدی لاری ديوه مجاهد ولس دعقيدتي مبارزي سوچه لاسته راوړني ددغه وړتوطئو قرباني کړي .

له بلي خواکتونکي وايي چي دواشنګتن اوپاکستان ترمنځ دافغانستان دربړي په رابطه اختلافات هم راپيدا شويدي .چي داهم دامريکااستعماري ځيري ماهيت په ګوتو کوي .

دملګرو ملتونو دسرمنشي وروستي څرګندوني په ډاګه کوي چي دروس امريکا دسازشونو اوتوطئو دعملي کيدو له پاره چمتوالي نيول کيږي اودملګرو ملتونو له لاري ورته زمينه برابر يږي چي لدي مخکي يي دصدرالدين آغاخان له خوا دهغي مقدماتي جريان په لاراچولی ؤ

پدي وروستيوکي دا خبره هم افشا شويده چي د(۱۹۸۹)کال داګست په مياشت کي دروس امريکاترمنځ پدي رابطه يوه پټه معاهده شوی چي دهغي ترمخي جيمزبيکرد(۱۹۸۹) کال ددسمبرپه مياشت کي مسکوته پخپل سفرکي ددوي په وينا دانتخاباتو په جريان کي دنجيب دحکومت پر پاتي کيدو رضايت څرګند کړ .

همدارنګه داهم افشا شوي ده چي دروس امريکاترمنځ په هغه پټه معاهده کي داهم شامله ده چي امريکا به دمجاهدينودهغوتنظيمونو اوحلقو چي داسلامي حکومت غوښتونکي دي دکمزوري کولو په لارکي هراړخيزي هلي ځلي کوي له همدي امله ؤ چي پرپاکستان اقتصادي بنديز- ونه هم ولګول شول .

که څه هم داجريان څه نوی ند ی،هرکله چي دمجاهدينو له خوادکوم متحد دريځ په رابطه توافق رامنځ ته شوي اودواحد قوت دجوړيدو په اړه کوم قدم اخيستل شوي نوپه همدغسي حالاتو کي دروس امريکا ګډوتوطئو چټکتيا موندلي ده،اوس هم چي له يو ي خوا دقومانداانو شورا په برياليتوب سره پرمخ روانه ده اوله بلي خوا دقيادتونوترمنځ هم هغه پخواني تاوتريخوالي مخ په ختميدو دي اودهيواد په شمال کي دحزب اوجمعيت ترمنځ داختلافاتو دله منځه وړلو له پاره نوي قدمونه اوچت شويدي په همدغسي حالاتوکي دروس امريکا له خوا دافغانستان دربړی دحل په نوم ددغسيّ مشبتوحرکتونو دمخنيوي اوسبوتاژ په لارکي تبليغاتي کمپاين شروع کيږي اودنړيوالواڼهانومغشوشولو له پاره تری کاراخيستل کيږي .

له همدي ځايه په کار ده چي جهادي قيادتونه له هغوحرکتونو سره مرسته اودزړه له تله همکاري وکړي چي ددغوتوطئوکمخنيوليا روا پدي اړه په لومړی قدم کي دقوماندانانو له شورا سره دهمکاري له لاري کيدی شي دروس امريکا ددغه وړتوطئو اوسازشونو مخه ونيول شي ځکه خوداضروري ده چي جهادي قيادتونه دواحد قوت واحدي قوماندې اومشترکي ستراتيژي په لارکي دقوماندانانو دسرتاسري شورا مرسته اوهمکاري وکړي،که نه نو وخت اوحالات دنورانتظاراوفرصت حوصله نلري

مردم افغانستان ...

براي نجيب الله رئيس حکومت کابل خبراتحاد تازهٔ مجاهدين که مجاهدين افغاني درايران رانيز در بر ميگيرد خبر خوبي نبود .

اين مطلب رايکي ازروز نامه هاي المان نگاشته علاوه مي نمايد که نجيب ميخواهد بدنبال زوال کمونيزم دراروپاي شرقي براي رژيم کمونستي خود سيماي جديد کمايي نمايد .

روزنامه «فرانکفورترروند شاو» المان نوشته است : حزب رئيس حکومت کابل که به حزب وطن تغير نام داده است ميخواهد تعد داحزاب واقتصاد بازار آزاد را بميان آورد .

روزنامه مينويسد : نجيب ازمدتها باينطرف ميخواهد در نماز جمعه درمسجد ديده شود زيرااوتلاش مي نمايد تابه حکومت خود سيماي اسلامي دهد . نزديکترين همکاران وي ازوزير خارجه تاوزراي دفاع وامنيت همه کمونست هاي دوآتشه ميباشند .

روزنامه علاوه ميکند : طوريکه ديده ميشود مردم دربرابر اين تغيرات ساختگي وتصنعي مشکوك ومظنون بوده وگذشتهٔ نجيب ازخاطره مردم فراموش نشده ومردم نميتوانند به موصوف باور داشته باشند .

نوازشريف د پاکستان ...

کيږ ي هغو ي په دي اړه دآزادو اميدوارانو ملاتړ هم ترلاسه کړي اوتهولو په ګډه نواز شريف دنوي صدراعظم په توګه پيشنهاد کړي نوازشريف به دلړم په (۱۵) دصدراعظمي لوړه وکړ ي.

همدارنګه په صوبه سرحد کي هم عوامي نشنل ګوند اواسلامي جمهوري اتحاد ديوه ګډ مطبوعاتی کنفرانس په ترڅ کي اعلان کړي چي دوي به مشترك حکومت جوړ کړ ي چي پڅ سرکي به يي ميرافضل خان په صوبه سرحد کي داسلامي جمهوري اتحاد پارلماني مشر وي ميرافضل خان به دلړم په (۱۷) دلوي وزير په توګه لوړه وکړي .

دبله لوري ددي ډير قوي امکان ليدل کيږي چي په بلوچستان کي د« اکبر بګتي » اوسند کي د«جام صادق علي » په مشری حکومتونه منځ ته راشي ،

په کابل کي ...

دبي لاري کولو لپاره اوس دنجيب حکومت په سينماګانو کي دښونځيو زده کونکو ته لوڅ فلمونه وړيا ښيي اوغواړي له دي لاري ځوانان ترخپلي قبضي لاندي راولي .

ليک په پاي کي دمجاهدينو له مشرانو څخه غوښتني وي چي ددي فساد دمخنيوي لپاره لاري چاري وسنجوي

مؤسس :الحاج مولانا جلال الدين حقاني

دهيئت تحرير

ترنظرلاندي

مسوول مدير

شهرت ننګيال

مرستيال

سيدمحي الدين هاشمي

مکاتباتي پته :

پوست بکس:(۱۰۳۳)يونيورستي تاون پيسور

دررژيم قواوی دهلمند په ولايت کي

دمجاهدينو له خوا په شاوتمبول شوی

دررژيم قواوي دهلمند په ولايت کي دمجاهدينو له خوا په شا وتمبول شوي دهلمند ولايت دګرشك ولسوالي نه قومندان محمد رسول اخوند زاده رپوټ ورکړيدي چي دځينو جهادي تنظيمونو يوشمير قومندانان دګډو عملياتو دپلان جوړولو لپاره دعقرب په لسمه نيټه دبارچاو په سيمه کي راغونډ شوي ؤ چي دګوډاګي رژيم دقواؤ له خوا پردوي حمله وشوه اوددواړو اړخونو ترمنځ سخته جګړه ونښته . چي پوره يوه ورځ يي دوام وکړ دمزدور رژيم مليشاوي په شاوتمبول شوي اودمليشاودقوماندان کمال الدين په ګډون (۲٤) تنه مليشا وځپل شول او (۱۲) تنه يي دمجاهدينو له خوا ژوندي ونيول شول .

په رپوټ کي څرګنده شويده چي ددي جګړي په لړ کي دوه تنه مجاهدين شهيدان او څو تنه ټپيان شويدي

****

عمليات برولسوالی ميوند ...

به عضويت بيست وپنج قوماندان ايجاد ګرديده وبه منظور فتح ولسوالي ميوند وظايف مشخص جهت اداره عمليات وتنظيم امور لوژستيکي به آنها تفويض شده است .

ګزارش حاکيست که عمليات بر يکصد وشصت پوستهٔ رژيم که درآن سه هزار مليشای رژيم مستقراند بتاريخ چهارم عقرب آغازيافته (۱۳٤) مليشه با سلاح شان به مجاهدين تسليم شده اند .

همچنان درګزارش ديګر يکه بتاريخ هشتم عقرب انتشاريافته آمده است که مجاهدين سه پوسته مليشاي رژيم رادر منطقه متصرف شده اند، مجاهدين ميخواهند بافتح ميوند شاهراه کابل کندهار را بروي ترافيك رژيم دست نشانده کابل قطع نمايند .

طبق يك خبرديګر رئيس ارکان ميدان هوايي کندهار بتاريخ ۲۹ ميزان با هشتصد وشصت تن مليشاي مسلح وغير مسلح که مسوولیت حفظ امنيت ميدان هوايي راداشتند به يکي ازقوماندانان جهادي تسليم شده است .

دګورجيا په انتخاباتو..

ماسکو دلړم (۱۲)

دروسيي دګورجيا ايالت په انتخاباتو کي کمونست ګوند د سختي ماتي سره مخامخ شو .

ويل کيږي په دي انتخاباتو کي دمخالفو ګوندونو ګډي جبهي «راونډ ټيبل » د (٥٤) فيصد ه رائيو په ترلاسه کولو سره برياليتوب لاس ته راوړ او کمونست ګوند (۳۰)فيصده رائيو په ګټلو سره ماته وخوړه همدارنګه دروسيي پارلمان دنومبر په (۷) نيټه دبلشويك انقلاب دسالګرد دلمانځلو په ترڅ کي به مظاهرو بنديزلګولي ويل کيږي دروسي پارلمان به دي اړه يوه پريکړه ليك صادر کړي چي بکي ويل شوي دنومبر په (۷) ددولتي غونډو پرته نور ي غونډي بي ځايه دي .

پيروزيهاي ...

غنيمت ګرفتند .

درګزارشيکه قوماندان اسمعيل خان بتاريخ هشت عقرب به کويته مخابره نموده آمده است که مجاهدين هر ات بعد از قتل آمر سيداحمد قوماندان مليشاي رژيم کابل يازده پوستهٔ کمربند امنيتی شهر هرات وهشت پوسته رادر منطقه ګذره فتح وغنايم زياد رابدست آوردند .

همچنان مجاهدين به تعداد زياد به شهر نفوذ نموده مواضع مشخص راتأسيس نموده اند وحکومت کابل نتوانسته است آنها را به عقب براند .

دکندهارپه ...

دمجاهدينو تربريدونولاندي راغی .

ددي بريدونو په نتيجه کي دررژيم دپلويانو (٤۰) تنه هلاك اوپنځه نور يي ژوندي نيول شوي دي. دکاروان دوپ لاری چي دمهماتو اووسلو ډکي وی مجاهدينو په غنيمت نيولي دي .